دمقالی لیکونکی : مارلین مارتین (Marlen Martin ).
سرچینه اودخپریدو نیته : انفارمیشن کلیرنگ هوز ۲۰۱۵-۷-۴
ژباړونکي : پوهندوی دوکتور سیدحسام (مل) .

---

# دیویشتمی پیړی بربریت

Twenty First Century Barbarism

***په نړی کی دامریکی متحده ایالات هغه یواځنی هیواد دی کوم چی دقانونی عمر څخه ښکته غړو (افرادو)ته هم دجزا ورکولو حکم صادروی چی داپخپله د ډیر ورانونونکی یا یلی سره مل وی .***

*دجون ځلورم کال (۲۰۱۵) انفارمیشن کلیرنګ هوس:* په شیکا ګو کی



***مارلین مارتین***

*هغه ورځ ډیر لوند(مرطوب)، زړه تنګونکي اوغمجن ورځ وه په همدغه ورځ کی یو پنځه دیرش کسیزه خلک په ګډه د قیمت بها وینی کلیسا ته (Precious Blood Church) کوم چی دشیکاګو په سهیلی ولویدیز څنده کی*

*پروت دی له لیری ځا یونو څخه سره راغونډ شوی وه چی هلته دمنارد تادیبی مرکز(Menard Correctional Center) جوړ کړی . دغه ځای د شیکا ګو د جنوب په اخری برخه کی موقیعت لری مخکی یو دولتی محبس وه اود شیکا ګو څخه تر دغه ځایه پوری په ګڼ ترافیکی لاره کی له شپږو څخه تر اوه ساعتونو پوری په موټر سره مزل وهل دی اوبیاهم دغه ځای ته رسیدل دترافیک په وضع اوحالت پوری اړه لری .*



***M**enard correlation center*

جولی اندرسن(Julie Anderson) خپله دخپل ملګری یا دخپل میړه سره په میاشت کی پنځه ځلی تر دغه ځای پوری راتلل اود شلو کلونو د پا ره ګڼ شمیر خلکو او سیلا نیا نویا د بند یا نو پای وازانوته اجاز ورکول کیدل چی ددغه محبس څخه لید نه وکړی اودخپلو بندیا نوسره ملاقات وکړی د جولی ځوی ایرک (Eric) پنځلس کلن وه چی ددوه قتلونو په کولو سره په مرګ محکوم شوی وه ، نو هغه دخپل مدافع وکیل په مندو تړو سره کوم چی هغه ته داجباری کارونو په کولوسره بی دکوم ممکنه مشروطه آزادی څخه د ژوند تر پایه پوری دبند سزا اوروا شوی وه .څه آ سانتیا برابره شی جولی وویل ما هیڅکله د خپل ژوند په موده کی داسی یو پیښی سره نه اوم مخا مخ شوی داهغه څه وه چی دایرک مور جولی ما ته وویل : هغی زیاته کړه کله چی ما یوځل دکیفری عدا لت پر سیستم باندی فکر وکړ داسی می وموند چی دغه قانون سرترپا یه بد له شوی اوپه هغه کی ګڼ تغیرات راغلی نوماهم بی له دی چی څه وکړم په دی باور مند شم چی د همدی تغیر کړل شوی قانون څخه ګټه پورته کړم .

خلکو دخپلو بکسونو ،دریشیو اود پټو یا دکمپلانو سره دیوی لوی سروس موټر په مخ کی سره په قرار قرار راټولیدل ، دسرویس په موټر سره دغه

سفر د شمال غربی پوهنتون دحقوقو دفاکولتی  بلوم لیگل کلینک ( Bluhm Legal Clinic) په مرسته سره تنظیم او چمتو شوی وه کوم چی دکال  څلورم ځلی سفر وه  چی د بندیانو دکورنیو دانتقال دپاره  اماده شوی وه  چی  هغوی وشی کړلی چی خپل عزیزان سره له نژدی څخه وګوری هغو محبوسینو سره چی دعمر له نظره  ځوان او ډیر شمیر  یی په  عمری  قید  بند یا ن دی پرته دخوشی کیدو دکوم ممکنه امکا نا تو څخه .




***دبلوهم لیګال کلینیک***

دبند یا نودځنوکورنیو دپاره  په دی کال کی دا اولنی  سفر وه کوم  چی  هغوی وتوانیږی چی  منا رد (Menard)ته  ځان ورسوی  اما ډیری نورشمیر  خلکو نشو کولی  چی دخپل بند یا نو سره له  نژدی وګوری اوهغه داچی   دوی  دلته دشپی دپا تی کید  ځای نه لرل اویا دبی وسی اودغریبی له کبله نشی کړلی چی دشپی له خوا په هوټل کی شپه سبا کړی .

رای  جیونر(Ray Joiner )کوم  چی  دهغه  ځوی  په منا رد (Menard) کی زندانی دی  داسی وویل :   ډیری دغه بند یا ن دځنو دلایلو په نظر  کی  نیولو سره  ډیر لیری ځایونو ته وړل  کیږی  او هلته  یی په بند کی سا تی   اودهغو دکورنیو د پاره یولږ ستونزی رامینځته کوی  او  اصلاً  نه  غواړی  چی دهغو کورنی هغوسره دید وبازدید وکړی .هغوی یعنی دغه بندیوانان په دی خوښیږی چی دتا مخه ونیسی اویا تا په انتظا ر کی  وسا تی  نو  په دی  لحاظ  څه  چی هغوی غواړی هغوی همغسی کوی اوتا ته سرخوږی پیداکوی .

امنیستر(Aminster) داسی څرګند کړ: کله چی مونږ له هغه ځایه د سرویس دموټر په لور وخوځید و نوپه دی وخت کی یولمونځ کذار یا یو عابد  دسرویس

دموټر په پایه دان کی پښه کیښود اوغوښتل چی سرویس ته پورته شی په دی وخت کی چا ورته وویل چی دغه سرویس د میلمنو دپاره ځا نګړی شوی ، نو په دی وخت کی هغه کله چی ځان د سرویس په خوا کش کړ خلکو ټول په خندا شول .

دیادونی وړ مطلب دادی چی په منا رد کی دبندیانو شمیر (۳۴۰۰)تنه دی چی په همدی دوو ورځوکی چی مونږ دلته یا ستو اود خپلو بندانو سره دلیدلو په انتظار کی یا ستو تر اوسه پوری یواځی (۷۰) تنو بند یا نو سره دهغو دکورنی ملاقات تر سره شوی دی .

جولی (Julie) شاید چی دخپل ځوی دکوټی ملګری میخایل سره ملاقات وکړی اوداځکه چی دهغه ځوی (ایرک) کوک کونټی(Cook County) زندان ته لیږل شوی ، جولی یعنی دایرک مور داسی فکر کی ولویدلی وه چی دهغه ځوی شاید چی دبیا له سره دبل کوم مجدد حکم داورولو دپاره هلته وړل شوی اوسی دایرک مور د میخایل په اړه وویل چی میخایل ډیریو عجیب اوغریب سړی دی زه دهغه په مورد کی بد احساس لرم یو خو داچی هغه له سره اکثرأ نه غواړی چی دهغه سره لید نه اوکتنه وشی مګر بیاهم ځما پر ځوی باندی دهغه تاثیرات زیات دی اوداځکه چی هغوی سره ډیر نژدی ملګری دی هغه یعنی میخایل ډیر یو مهربان سړی دی اود ډیرو نورو سره تل ستر کمکونه کوی.

نو دهمدی احساس په لرلو سره بیاهم جولی (Julie) تر هغه چی دهغی وسه کیدل یو زیا ت شمیر شیا ن چی د کمیساری څخه پیرودلی وه هغه شیا ن یی دواړه یعنی میخایل اوایرک ته ولیږل چی سره نمیا یی کړی دجولی ما موریت یا دهغه هوډ داوه چی څه کولای شی چی خپل ځوی ایرک کورته راولی له هغه وخت کوم چی هغه ونتوانیدل چی خپل ځوی کورته راولی لکه چی اوس کولای شی - نو دهمدی دلیل په نظر کی نیولو سره هغه له هیڅ ډول زیا ر اوزحمت څخه لاس وانخیست چی خپل ځوی بیرته کور ته را نولی نو په همدی وجه وه چی جولی (Julie) په هره میاشت کی پنځه ځلی د لته یعنی مینارد (Menard)ته راتلله اودخپل دځوی ایرک دژوند د نجات د پاره څه چی یي په وسه وه تر سره کول.

دلته په منارد کی یوشمیر ځوانانو ته چی په بند کی وه اوهغو ته بی د کوم

ممکنه مشروطه آزادی څخه داجباری ژوند سزا اورول شوی وه ایرک دنورو ځوانوبند یا نوپه پرتله دنیکمرغی یوه چانس درلوداو هغه داچی د(میلرالاباما ) عالی دیوان په کال ( ۲۰۱۲) کی داسی یوه پریکړه وکړ چی هغه ځوانان چی خپل قانون عمر نه وی پوره کړی ،نو که چیری هغوی په دی وخت کی په کوم جرم لاس پوری کړی اوسی په اعدام سره نه محکوم کیږی که چیری هغوی ته بی د کوم ممکنه مشروط آزادی څخه داجباری ژوند سزا اورول شوی وی .نو دهمدی رغنده پریکړی په نظرکی نیولوسره ایلینوس (Illinois) دامریکی دمتحده ایالاتو د څونورو ایالاتو څخه هغه یواځنی ایا لت دی چی دامریکی دمتحده ایالاتو دعالی دیوان دغه حکم د تیرو سوابقو په نظر کی نیولو سره تطبیق اوتر سره کړی.

په نوموړی محبس کی هر اته زندانی کوم چی هغوی ته مخکی بی دکوم ممکنه مشروط آزادی څخه داجباری ژوند سزا اورول شوی وه ددی انتظارایستل چی هغوی ته دهغو دجرم په اړه دمجدد پریکړی حکم واورول شی ، نو په دی لحاظ هغوی هریو باید دقاضی په مخ کی ودریږی او دخپل برخه لیک په اړه عارض شی کوم چی قاضی پرهغو باندی مخکینی حکم تایدوی یا داچی دهغو جزا را ټیټوی .

دتیوری پربنیاد قاضی باید چی د یومحبوس یا زندانی عرض ته غوږ کیږدی اوهغه ته که نر وی یا که ښځه دویلو کافی وخت ورکړی ترڅوچی هغه د خپل جزا په له مینځه وړلو اود خپل ځا ن په بری الذ مه کولو کی کافی دلایل وړاندی کړی لکه همغسی چی جولی دایرک مور اونور کورنی دخپلو هیلو د سرته رسولو د پاره نه ستړی کیدونکی هلی ځلی تر سره کول . اما له بده مرغه د میلر(Miller) پریکړه ونشو کړی چی ددی زندانی ځوا نا نو دهغه مخکینی اورول شوی جزا چی عمری قید وه هغه دمینځه ویسی یا دهغه اندازه کمه کړی . اما اوس هغوی دی ته اړین دی یا هغو ته ددی ضرورت لیدل کیږی چی هغوی باید دخپل اوسنی جزا د کمیدو یا د مینځه وړلو د پاره یولړ اقدامات ترسره کړی :***لکه د متهم عمر د جرم درا پیښید و په وخت کی ، یا د مجرم د ژوند اوسنی نا وړی شرایط ، یا داچی د نوی په حال دودی ځوا نا نو باندی فشار اچونه په نسبت دهغی چی هغوی ډیر آسیب پذ یر دی هغو ته یولړ ستونزی پیداکړی اوداځکه چی دهغوی ماغذه دتکا مل پړاونه***

**وهی نو په دی بنیاد که پرهغو با ندی فشار اچول بنه پایلی نه لری . داهغه څه دی چی دغه ځوانان باید دا موضوعات پخپل صورت دعوا کی تر کلک پاملرنی لاندی ونیسی .**

په متحده ایالاتو کی لاتراوسه **له (۲۰۰۰)** څخه زیا ت نوی تنکی ځوانا نو دآزادی په غیر ممکنه شرایطو کی خپل ژوند په محبس کی تیروی ، دا هغه څه دی کوم چی دغه شا ن جزا ورکونه د نړی په بل هیڅ کوم هیواد کی ځوانانو ته نه ورکول کیږی .

په هرصورت دایلینیس (Illnois) دولایت محکمه د بند یا نودجزا په اړه د (میلر) دعا لی دیوان دپریکړی د تحقق په منظور په یو لړ اقداما تو لاس پوری کړ کوم چی یو دهغه اقداماتو څخه د بند یا نو د جزا پرحکم با ندی د تجد ید نظر موضوع وه ، په دی وخت کی جولی یا د زیرک مور دهمدی موقع څخه په ګته پورته کولو سره خپل عرض محکمی ته وړاندی کړ اوپه تیره بیا هغی یعنی جولی (Julie) لمړنی پریکړی ته په پاملرنی سره کوم چی د ادولفو دابیس (Adolfo Davis)په مورد کی ترسره شوی وه پا م واړول او هغه پریکړی یي پخپل صورت دعوا کی دیو قوی دلیل په بنه پکار ویوړه .

*بیرته کال (۱۹۹۰) ته راګرځو یعنی هغه وخت چی ادلفو(Adolfo) څوارلس کلن شوی وه ، ومنله چی هغه دخپل باندیت (دجنایت کارانو ډله) ملګرو څخه کله چی هغوی په جرم لاس پوری کول دهغو څخه څارنه کول چی په نتیجه کی په دی پیښه کی دوه سړی په قتل ورسید ل، ادلفو دقاتل دمعاون په صفت په بند محکوم شو اومحکمه هغه دجز داورولو په وخت کی داسی تهد ید کړ : اوهغه داچی که چیری تاسی (ادلفو) دتوپک ما شه کش کړی اوسی نو په هغه صورت کی تا سی ته د مرګ سزا بی دآزادی له بل کوم ممکنه شرایطو څخه جزا ورکول کیږی حال داچی په واقیعت کی هغه پرهیچا نه ډزی کړی وه اوهم هیڅوک یی نه وه وژلی .*

*اوس ادلفو(Adolfo) ددی کال په درشل کی اته دیرش کلن شوی وه او هغه قاضی انجیلا پترونی (Angela Petrone) ته دخپل مجد دجزا دحکم داوریدو دپاره عارض شو یا دخپل صورت دعوا لیکنی وړاندی کړ ، اودهغه دفاعی جلسه پیل شو کوم چی دهغه خبری اتری د قاضی سره تقریباً یولس ساعته*

دوام وکړ . په دی وخت کی دالینوس (Illinois) دزندان د بند یا نو څخه دیو زند ا نی مورداسی څرګند اوتوضیح کړ او هغه داچی : دا یوډیرسترړی کیدونکی ورځ وه.: پترونی (Petrone) دادلفو وکیل مدافع ته څلورساعته وحت ورکړ چی وغږیږی ، هغه وار په وار له سره په همغه یوشی باندی ټینګار کول او یا له سره یوشی په تکرار سره بیا نول اوپه درامتیک بنی سره ادلفو(Adolfo) ته اشاره کول ، کوم چی اوریدونکو ته ډیرسترړی کیدونکی وه نو په دی وخت کی قاضی ټولو اوریدونکو ته ددوو دقیقو دپاره تفریح اعلان کړ چی که چیری څوک غواړی چی تشناب ته لاړ شی او په تاکیدی بنی سره وویل چی وروسته له دوو دقیقو څخه ددادګاه خونی ته بی له کوم ځنډه بیرته راشي دا دومره کم وخت وه چی حتی ځنی ځنی دزینو څخه هم لاندی منزل ته کوز نشو اوداځکه چی داعلان کړ شوی تفریح وخت ډیر کم وه .

انجلا پترونی (Angela Petrone) ادلفو ( Adolfo) ته همغه مخکینی اصلی ورکړ شوی جزا حکم له سره تاید او هغه ته خپل پریکړه واورول ، هغه خپل نظر داسی توضیح کړ :ما ددی دپاره خپل نظر ادلفوته اعلان کړ چی دغه پریکړه له دی امله ډیر ضروری دی چی نورو ته دعبرت سبب شی اویا دغه پریکړی له دی سببه ډیر ضروری بلل کیږی چی دټولنی نورو غړو له داسی اعمالو څخه ځانونه وساتی ، قاضی ادلفو ته وویل ستا اعمال داسی ښیی چی ته متجاوز اویو بی عا طفه سړی یي اود انسا ن ژوند ته هیڅ پاملرنه نه لری اوپه دی بها نه غواړی چی خپل اعمال دخپل څوارلس کلنی عمر تر شا د بخښنی یا د عفوی په وړاندیز خپل بری الذ مه تر لاسه کړی .

جولی (Julie) د محکمی یا ددادګاه په خونه کی له ادلفو څخه ملا تړ کوله هغه یعنی جولی کله چی دقاضی پترونی اعلامیه «ادلفو» په اړه واوریده هک اوپک شو ، حتی تر دی پوری کوم چی قاضی د ماغذه د نوی پوهاوی دلاسته راوړنی په هکله پخپلو خبرو او توضیحا تو کی هیڅ یا دونه ونکړه ، نودهمدی دلیل پر بنیاد جولی (Julie)وویل : چی قاضی دلته یواځي خپل نظر بیان کړ اود میلر (Miller) د دیوان د حکم په اړه چی د ماغذه دپوهاوی یا دشناخت په برخه کی څه وړاند وینه کړی وه پیترونی(Petrone) د هغه دیادولو څخه ډډه وکړ او جولی(Julie) وایی چی لا تر اوسه هغه وخت می

*یادیږی کله چی زه د داد ګاه خونی ته راغلم اود پترونی خبری می واوریدل » جولی داسی توضیح ورکړه : ما« ادلفو » ته کتل هغه چا ته چی دخپل ژوند دوه پر دریمه برخه په زندانی کی په بند تیر وی او هغه یعنی «ادلفو» کله چی دتجدید نظر دحکم خبری دقاضی پترونی له خولی څخه اوری چی هغه بی دکوم ممکنه شرایطو دآزادیی په عمری قید ساتل کیږی هغه ته ډیر مایوس کونکی او ډیر غمجنونکی ښکاره شو ، جولی وایي : هغه یعنی «ادلفو» په ژور اندیشنی ولوید ،خپل اوږی پورته واچول او په کوکار شو اوپه چیغو چیغو ژړیدل زه په دی وخت کی ډیر په قهر اوپه غضب اومه ، فقط خپل کورته لاړم اودځا نه سره می وویل : ریښتیا ؟ ریښتیا ؟ .*

*جولی وویل : کله چی قاضی یعنی پیترونی (Petrone) د قضا کوټی ته ورننوتل اود خپل اوه صفحه ای پریکړی په لوستلو پیل وکړه ، په دی وخت کی ادلفو د کوټی په ننه کی نه وه ، د ا د لفو وکیل پر قاضی باندی غږ وکړ او هغه ته وویل چی ځما موکل نشته تاسی یو څو شیبی تحمل وکړی ممکن چی ادلفو راپیدا شی ، قاضی اصلاً دهغه خبری ته پام وانوړول چی ایا ادلفو په اتاق حضور لری او که نه؟ جولی داسی وویل : هغی یعنی قاضی پیترونی هغی ته ونه کتل اوخپل خیال یی را نوړ چی ایا اد لفو د ننه په اتاق کی دی اویا که نه دی لکه هغسی چی قاضی - ادلفو یی په سړی کی نه شمیرل .*

*دلته دننه په سرویس کی ځنو سینمایی فلم ته کتل ، څو تنو سره بلکل غلی اونه سره ګړیدل اوځنونور بیا دمزل په وروستیوشیبوکی خپل سرونه دسرویس له کړکی څخه ایستلی وه اودلوی لاری ددواړو خواد منظرو تماشا کولی په دی وخت کی د ارک مورجولی ما ته وویل زه نشم کولای چی ددی ښکلو مناظرو څخه عکسونه واخلم هوکی هغوی تا نه پریږدی چی ددی ځایونو څخه عکسونه واخلی هغوی یعنی ددی ځای چارواکی حتی اجازه نه ورکوی چی د بند یا نو عکس واخیستل شی ، - په دی وخت کی دایرک مور د خپل ځوی عکس چي پخپل هندی کی ثبت کړی وه هنډی راوویستله اودایرک فوتو یی راښکاره کړ ه او وویل داځما ځوی ایرک دی : ایرک په تصویرکی نری ، خوش تیپ ، ښکلی ، ګلالی اود څوارلسو کلنو په عمرښکاریده ، اودهغه مور جولی په ډیر ویاړ سره خپل خبری تکراروله چی داځما ځوی ایرک دی ! ما هغی ته وویل هو ریښتیا دا دی ځوی دی – جولی وویل هوکی همدغه می ځوی دی اما په*

دی تازه وختونو کی دهغه نوی عکس می نه دی اخیستی اوزه داسی فکر کوم چی  هغه لا پنځه دیرش کلنی ته نه دی رسیدلی  اوهغه ته اجازه هم نه ورکول کیږی چی خپل کورنی سره وګوری تر اوسه پوری به دی دوو کلنو کی  یو یا دوه ځلی هغه ته اجازه ورکړی شوی وه  چی خپل  کورنی سره ملاقات وکړی نو په همدی وجهه سره دایرک څخه نوی عکسونه ما سره نشته   چی دا پخپله ددولت  یوه بله ملنډی وهل دی کوم چی بند یا نو ته  په  سپک  اوحقارت نظر ګوری .

ګلادیس ویدرسپون (Gladys Weatherspoon) ډیرغږیدونکی «پرحرف» اودوستانه  معلومید له ، هغی دخپل مور ماکسیم (Maxime) سره دخپل ورور فرید ودیرسپون (Fred Weatherspoon)  ملاقا ت اولیدو ته تلله   کوم  چی دهغی ورور دویشت کا له خپل عمر په زندان کی تیر کړی اولاتراوسه  په  بند کی دی ، دهغه ورو  دځواب ورکونکی په تور  هم تورن شوی  دی  ، د فرید خور زیا ته کړه چی ما خپل ورور تراوسه په  همدی  ورته شا ن سفرونوسره په  دری سفرونو کی له نژدی لیدلی اوهغه سره می ملاقات کړی دی  هیله لرم چی نور می  ورور  په  دی ډول  بد بختیوو کی بیا له  سره  ککړ  نشی اوډیر امیدواریم چی دخپل ورور دخلاصون آواز پخپلو غوږونو سره واورم .

ما  یوغیبی آواز  واوریدل اوهغه   داچی  ری (Ray)   ه وویل  هو! که هغه څوک پرخدای اود دوزخ  پر موجودیت  با ندی  باور ولری هسی چی زه باور لرم اما زه فکر کوم  چی ته  ګلادیس ما په شا ن  باور نه لری .  ما وویل  لکه نور تیول اورونه – حرارت  اوځنی نوروشیا نو په څیر . په هرصورت  دموتیږ تیول  څورلی  یود  بل  سره د زندان  د  بوږنونکی  پر حالاتو  او   پر  نا وړو اوضاعوو اومحدودیتونو باندی سره ورته خبری اتری کول او  جولی  د ایرک مور د یوی پیښی قصی کولی .

په یاد ولری کله چی هغی ښځه  غوښتل چی خپل   بندی خپلوان سره ملاقات وکړی  هغوی  دی ښځی ته ویلی وه چی اجازه نشته پیرودلی  شوکلات  دځانه سره ویسيي؟  اما هغه ښځه کله چی دغه  شوکلات د کمیساری  څخه   پیرودل هلته د ځان سره دهغه دوړلو اود ی نه وړلوکوم نښی نښانی نه ترسترګو کید له نوپه دی بنیاد هغی داسی انګیرله چی دغه پیرودل شوی   شوکلات  دځانه سره وړلی شي  لاکن هغوی پر دغه ښځه یا پر دغه انجلی  باندی په چیغو سره غږ

پورته کړل چی **تاسی دغه شوکلات دځان سره وړلی نشي؟** نو په دی وخت کی دغه انجلی کیښینا ستـه د شوکلات پاکټ او یا دهغه کاغذی پوښ وشیړل او لیری کړه او ټول شوکلات یی په خوله کی واچول اوپه ژولو یا ندی پیل کړه ، کله چی دغه انجلی ددی شوکلات په خوړلو یا ندی پیل وکړه هغوی پر دغه انجلی باندی دلیونی خیال وکړل ، حال داچی دغه انجلی دغه ټول شو کلات ددی د پاره وخوړل چی دهغه دورتګ اودخپل ورور سره د ملاقات مخه نیولی وه اوله بله طرفه هم نه غوښتل چی شوکلات چیری لیری وغورځوی .

د بند یا نو د کورنی یوه بله غړی دبند یا نو دعا دی جزا ګا نو په اړه کوم چی بندیوانا ن بند یا نو ته ورکوی داسی څرګندونه وکړ: بندی سړی دهغه د کوټی څخه را باسی اویوی پراخی میدانی ته راولی او هلته هغه ته وایی چی پخپل دواړه پښو کیښینه او خپل وچولی په دیوال ولګوه نوپه دغه وضیعت باندی هغه دڅوساعتونو دپاره سا تل چی همدغسی کیښینی او هغه ته هیڅ اجازه نه وه چی ځان وښوروی کوم چی په پا یله کی دغه بندی ممکن چی پخپل پرتوګ کی غټه میتیا زی وکړی اویا داچی خپل تغوط چیری دبا ندی له خپل پرتوګ څخه و غورځوی .

نو کله چی ما دهغی څخه پوښتنه وکړ چی دوی ولی داسی سلوک دبندیانو سره کوی نو څما د سوال په ځواب کی جولی د ایرک مور وویل داځکه چی دا بند یخا نه دی؟ داځکه چی هغوی هرڅه چی وغواړی همغسی کوی؟

په هرصورت هغوی مونږ ته وویل چی تاسی د مازد یګر په پنځو بجو ځا نونه عبادت ګاه (صومعه) ته ورسوی اوهلته ټول زاړه خلک را ټول شوی دی چی اکثرً سپین پوست دی اود ستا سو انتظار با سی چی تاسی هم دهغو په مجتمع کی سره ګډ شی نوکله چی مونږ هلته ورسید لو هغوی شورماشور باندی پیل کړل او مونږ ته وویل چی سفر مو څنګه وه؟ ممکن دی چی تا سی به وږی شوی یاست نو را ځی یوځه شی وخوری او خپل خیټه مو موړ کړی .

مونږ ته وویل شو چی تاسی دلته خپله یوه کوټه، میز اوانترنیت به ولری اوپه هر دری کسه باندی به یوشریکی تشناب هم دستا سود پاره ځانګړی شوی دی راهبه یا زمونږ راهنما مونږ ته په ښکته منزل اوپه یوه ډیرقیمتی دهلیز کی زمونږ اتاقونه راوښودل چی زمونږ نمونه دکوټی ددروازی په مخ په لاسی

قلم باندی لیکل شوی وه هغه یعنی راهبه زمونږ ددوو ورځو دپاتی کیدو څخه په دی خونو کی دپیسو اخیستو څخه ډډه وکړ او مونږ ته ډیر په ورین تندی اوپه تاکید سره وویل چی تاسی کولای شی چی دلته دمختلفو غذا اوخواړه څخه څو څو ځلی وخوری اوتری خوند واخلی .

ایمانول ،لوړ اونه ، نورانی سړی او دایرک دمور سره دغه کلنی مراسم تنظیم کړی وه. ایمانول اوجولی په ظاهرکی دخیری اود اناتومیک جوړښت له نظره سره ډیر متفاوت وه - جولی لنډ اونه ، سپین پوستکی ،اجتماعی اما ایمانول ، لوړ اونه تورپوستکی چپ اوغلی ښکاریده اما دواړه د دی کورنیو اود بند یا نو په مواظبت کی له هیڅ ډول هڅی اواند څخه ډډه ونکړل اودخپلو خبرو په وخت کی دډیولو احترام اودرناوی ساتله .

دیاده باید ونه باسو له دی نه چی زمونږ دکورنیو ځنی غړی د لته کوم چی په بند کی دی او ممکن دی چی یوه ورځ د لته مرهم شی نو له دی وجهی څخه کله چی مونږ د خپلو دوستا نو څخه غواړو چی مونږ د خپلو بند یا نو دملاقات د پا ره په دری ورځنی سفر دلته راولی نو په دی صورت کی طبعاً مو نږ خپل حیثیت او وقار دلاسه ورکوو؟ امانول(Emmanuel) غواړی اویا هڅه کوی چی د بند یا نو د کورنیو غړو ته هغه زایل شوی وقا ر او حیثیت دخپل نه ستړی کیدونکی هلو ځلو پواسطه سره بیرته اعاده کړی .

امانول دڅارنوالی دزده کړی تمرین ترسره کول ترڅو چی په دی پوه شی چی دجزا دعدالت د نظام په دننه کی څه تیریږی ترڅو چی دپوره پوهاوی په رڼا کی هغه وشی کړی چی د قا نون شکنی سره کوم چی د خلکو په وړاندی ترسره کیږی مبارزه وکړی اود خلکو سره مرسته وکړی نو د همدی دلیل له مخی هغه هره شپه خلک سره راټولو اودهغو سره دنظریاتو اوهغه شی کوم چی د خلکو په ذهن کی ګرځیدل جر اوبحث کول یا خپل نظریات دهغو خلکو سره شریکول اویا د هغو د سوالونو ځوابونه و یل یعنی ددی ډول سوالونو ځواب: دتا سو له نظره دغه تنظیم کړل شوی کلنی لید نه اوکتنه څرنګه سره څیری .؟ هغه غوښتنی چی د تا سو په فکر سره اوس دستی دهغه دضرورت ډیر احساس کیږی کوم یوه دی ؟

ماری هیکس (Mary Hicks) غوښتله چی خپل ځوی کیون(Keon) سره ملاقات وکړی هغه خپل خوشحالتیا د مانول په لیدو سره ښکاره کړه اوداسی

وویل چې هغه یعنی ما نیول برخلاف د کورنی د یو غړی څخه لا زیات دنورو سره مرسته تر سره کوی ، هغه زیا ته کړه چې ځما ځوی کیون د دوم ځل دحکم داورولو (واجد شرایط برای صدور حکم مجد د) شرایط نه لری اوداځکه چې هغه یعنی ځما ځوی خپل یو کال دلاسه ورکړی دی. هغه خپل حق شناسی اودرناوی هریو ته په ډکه خوله وړاندی کول اوپه همدی وخت کی نورو راغلی خلکو هم پخپل وار سره خپل ښه هیلی اوتشکرات وړاندی کړل اوپه دی خلکو کی یوه مورداسی وویله: زه پوهیږم چې خدای دلته حاضر حضور دی اوموږله نژدی څخه ګوری چې موږ څه کوو.

هغه وخت چې ګلوریا جکسن(Gloria Jackson) دخپل ځوی دیمتر یوس (Demetrius) سره دلیدو اودملاقات په وخت کی خبری کوله نو هغی دخبرو په مینځ کی په سلګلی وهلو سره په چیغو چیغو ژړیدله اوپه دی باندی ګړید له چې په نوموړی خونه کی څرنګه مخکی دهغه څخه د نورو کورنیو غړو سره جدا کیدل: « هغه ویله چې ډیره سخته وه او ما د هغی صحنی په لیدو سره ډیر وژړله اوداځکه چې ما ځان یوائی احساسوله ، ما هیڅکله داسی نه انګیرله چې زه دغه حالات وزغمم نوپه دی بنیاد زه د تا سو له ټولو څخه مننه کوم چې ما سره مو مرسته وکړ یا ما سره مو غم شریکی وکړله ». دهغی سره په څنګ کی دګلوریا لور ناسته وه اودخپل ورور دیمتروس په لیدوسره دخوشحالی اوښکی تویوله اوپه عین زمان کی هیله یی څرګندوله چې کاشکی که چیری ددی ورور ته هم لکه دایرک په څیر داسی حکم صادر کړی چې دهغه دوسیه له سره وکتل شی. اوداځکه چې دهغی ورور هم لکه د ایرک په څیر د ځوابګوی په تور هم تورن شوی وه .

دګیورا(Guerra) دکورنی یوه مور ، ورور اوخور د اول ځل د پاره په نوموړی خونه اود خلکو په را غونډ شوی حلقه کی سره حاضر وه ماریا یعنی دهغه کورنی مور د جنایی عدالت د نظام پر سیستم با ندی د خپل ناهیلو اوپه نا امیدی باندی خبری کوله اوتا به ویله چې دوی دهرشی په اړین تاوپیچ خوړل اوپر هغه با ندی ډیر غبرديله ،هغی ویله که تاچیری یو شی ویله نو هغوی دهغه پرشاخوا تاوپیچ خوړله اوداسی انګیرله چې دا به کوم بل شی وی . انیتا (Anita) د هغی کورنی خور ویله : ځما ورور هیڅ یو غلط کار نه دی ترسره کړی هغه نه باید دلته په بند کی ساتل شوی وای، د هغه کورنی ورور دانیل

(Daniel) چپ اوغلی ناست وه اودخپل لاسونو سره د عصبانیت په لرلوسره لوبی کوله .

بله ورځ مونږ په دوه ځلي وار یا نوبت سره منارد ته لاړلو او زمونږ دسفر ملګری داسی جامی اغوستی وه چی تا به ویل چی دوی کلیسا ته روان دی ، ګلوریا ښکلی سپین رنګه جامی اغوستی وه – ویرا (Vera) د خپل سر ویښتان په یوه ښه ستا یل سره پورته غوټه کړی وه اویوه بنفشوی د پام وړ کمیس یی په تن کړی وه ، او مونږ په ګډه سره د منارد په خوا تللو ، هغه وخت چی مینارد ته نژدی شو هغه کلاه ته هم رانژدی شو کوم چی د یوی غونډی پرسر دتپولو شته تسهیلاتو په درلودلو سره پروت وه ، مونږ هم خپل سفر ته ادامه ورکړل ترڅو چی خپل ځانګړی څوکیو ته چی د ملاقات په خونه کی ځای پرځای شوی وه را ورسیدو ، دغه ځای په واقیعت کی داسی ښکاریده لکه دیو ورکشاپ د غرمی د ډوډی خوړلو دخونی په بڼه . دکوټی په د ننه کی (۲۰) یا (۳۰) وړه میزونه سره د څوکیو په منظم ډول سره پرځای شوی وه اود کوټی ددیوالونو په مخ مختلف قوانین او مقررات له سره په نښه کړشوی شکل سره ځوړند وه ،( اومونږ هم لکه هغسی چی یوه بندی ته اجازه نه دی چی هرخواوګرځی مونږ هم کله چی یوځل په دی څوکیو کی کینا ستو بیا نودخوځیدو مجال نه مو درلودل ).

دالمړی ځل دی چی زه دجمیی جاکسن«Jamie Jackson» دلیدو دپاره دهغه دمور دکار له څنډی څخه راغلی یم چی پوه شم چی دشیکا ګو داعد ام دجزا د ختمول هڅی اوکمپاین څرنګه مخ په وړاندی ځی سره دهغه چی جیمی ته داعدام جزا نه دی اورول شوی اوهغه دژوند تر پایه په بند محکوم شوی دی هغه څه چی ماربا (Marva ) اود همد غسی نورو بند یا نومیندی غواړی چی دخپلو ځامنو د اعدام دخلاصون دپاره وجنګیږی.

جولی دایرک مور را وپاریده او داسی یی وویل چی زه ددی توان لرم چی د جمیی سره وګوروم ،ماربا یو څه زاړه دی اودهغی دپاره سخته دی چی تر هغه ځای پوری سغر وکړی ما هغی څو څو ځلی دلته را غوښتی دی او هغه خوارکی نیت کړی چی دلته راشی اما زه هیڅ اطمینان نه لرم چی هغه وشی کړی چی دلته راشی جولی د خپلو خبرو په دوام کی وایی ما ربا پرما باندی ډیر ګران دی او هغه می ډیر خوښیږی هغه دخوږو تر مینځ ډیر خواږه او

مهریا نه ښځه دی او هغه تل ما ته دوعګانی کوی.

جیمی دنورو څخه یو څه لږ وروسته راغی ، زه کیښینا ستم اولکه دنورو په څیر چی دخپل دعزیزانو دلیدو په انتظار کی وه او په ډیر حریصانه بڼی سره غوښتل چی خپل عزیزان وګوری نو کله چی ددی کورنیو عزیزان خونی ته را داخل شو نو ډیر په لوړ آواز سره دخوشحا لی نا ری اوسوری را پورته شو هسی چی ته به وایی د کوتی په چټت کی آوازونه راځرخی .مونږ کوم چی له باندی راغلی وه یواو بل سره مو دملاقات په خونه کی ولیدل د لته چا ماته یو څوک معرفی کړ، کله چی ماهغه ته په ځیر وکتل ( هغه کتې مټ دتا په څیر ښکاریده ) سره دهغه چی مونږ د ملاقات د کوټی د مقرراتو په رعایت کولو سره نشو کولای چی یود بل میز ته سره لاړ شو .

ری(Ray) کوم چی هغه په د انګل او په ګاونډیتوب کی ژوند کول هغه یواځنی پلار وه چی دخپل ځوی رابرت ( Robert) د لید و دپاره دلته راغلی وه ،دخپل هغه ځوی دلیدو د پاره چی دهغه ځوی خپل دبند څلویشتم کال تیرولو او هغه ته همدارنګه د دتجدید نظر حکم هم نه وه ورکړ شوی یعنی دهغه دپاره دتجدید نظر دحکم دصادرول شرایط هم میسر شوی نه وه نو په هغه شپه کی دخلکو د حلقی وروستی سړی ری(Ray) وه کوم چی هغه د اتموسفیر په درک اواحساس سره کوم چی د ملاقات په خونه کی موجود وه داسی وویل چی ما هغه تیر ملاقات چی لید لی وه دا ملاقات د هغه په پرتله ډیر ښه اومنظم ملاقات ښکاری .

بالاخره جیمی بیرون راووت اومونږ دواړه سره روغبړ وکړ دهغه په شونډو کی مسکا اوډیر خوشبین ښکاریده .

هغه ماته دهغه چا په اړه خبری وکړ کوم چی ما هغه ته پاپ ویل اوداځکه چی هغه څو ورځی مخکی ډیر غټ اوببر ږیره درلود ٬ پاپ وویل چی ما خپل ږیره له سره تول وخیریله او پخپلو خبرو کی زیاته کړچی ما خپل د سر ویښتان هم له بیځه وخیریله هغه وویل چی اوس وګوره چی زه ښه نه ښکارم هغه بیا له سره خپل سر ما ته را وښودل اوما هم هغه ته وکتل کوم چی دهغه په شونډو کی مسکا تړکید لی وه یعنی هغه ډیر خنده روی سړی وه . هغه ډیر مایل وه ددی سفر په اړه پوه شی او هم وپوهیږی چی دراهبه ځای اومکان څه ډول وه ، ما هغه ته دخپل قدم وهلو په باره کی وویل چی زه څرنګه ددی

خانقاه اودصومعی په شا وخوا وګرځید م اوصومعه می ځرنګه ورکه کړ دیادولو وړ خبره داچی ما د خپل قدم وهلو په وخت کی دغلی اوددانی په یو انبار می سترګی ولګیدل او په عین زمان کی ما هغه تول کورنی ولیدل چی دپکنیک (تفریح) په میز کی سره ناست وه او ډوډی خوړل ، زه هغو ته ورنژدی شم اوهغوی تول ما ته وکتل اوتول په تعجب کی ولویدلی وه چی زه هلته څه کوم؟ اویا ولی راغلی یم؟ وروسته له هغه ما په عذرانه ډول دهغو څخه معذرت وغوښتل اوهغه داچی که چیری دوی له ما څخه پوښتنه وکړی چی ته که دراهبی (هغه ښځه چی تارک ددنیا وی) دهسوګنی د ځای دایریکشن یا لاره مونږ ته وښیی له تا به ډیر خوشحاله شو . جیمی هغوی ته وویل ښه خبره خو دادی چی تا سی بیرته لاړ نشی جیمی په دی وخت کی پرخپل چوکی باندی ډډه ولګول قهه قهه په خندا شو اوویل هغه څه چی ما وکړ .

دلته زیات توریوستکی خلک نه ترسترګو کیدل بلکه د منارد په داخل کی دتورپوستکو پرضد دیو پټ سازمان غړی دلته میشته دی .

جیمی دخپل کار په اړه کوم چی په مینارد کی مصروف اومشغول وه خبری وکړ هغه په یو پخلنځی کی شپږ ورځی هره ورځ شپږ ساعته کارکول هغه دخپل نورو همکارانو سره د ډودی بشقا بونه او پطنوسی پریمنځلی اوبیا یی په الماریو کی ځای پرځای کولی دا یو ډیر فزیکی اوسخت کاروه کوم چی هغوی هریو ته په میا شت کی (۱۹) ډالر معاش ورکول .

هغه وویل کله چی می دنده تر لاسه کړنوځرنګه می دکمیساری په ګدامونو کی راپیرودلی اقلام ځای پرځای کول ، په ریښتیا سره چی دغه دنده می ډیر خوښیده او زه هم دهغه دندی سره ښه اوخوشحال اوم اوپخپله می د اقلامو او د موادودرانیولو هدایت اوافرورکول اویا ځرنګه می دراپیرودلی مختلفو بوتانو اودکرمچونو رنګونه اوستا یل می پخپل خوښه سره انتخابول او یا داچی دورځی دغوښتنی پر بنیاد اجنا سو ته می تغیر ورکول .

بالاخره جیمی په کال (۱۹۹۱) کی دهمدغه مغازی یا دهمدی دوکان دمنشی یا دهغه دکاتب یا دتحویلدار دتښتولو اود وژلواو د اقلامودغل اودسارق په تور محکوم شو هغه وخت چی جیمی اولس کلنه وه هغه ته بی د آزادی د ممکنه شرطونو په نظر کی نیولو سره دعمری قید سزا واورول شو هغه سزا کوم

چې دمیلر(Miller) ددیوان دپریکړې سره سر نخوړل هغه څه چې قاضي دهغه جزاوارولو او ضرور هم نه وه چې جیمي دغه شان جزا ومنې اویایې ترسره کړي. اویا داچې ممکن دی چې دغه اعلام کړی شوی جزا یا دقاضي حکم ومنې اما جیمي هیڅ دهغه په حساب کې ونشو او پرهغه باندې سر ونه خوړول هغه واقعاً لکه ما په شان هغه حکم باندې اندیښنه څرګند نکړه .

جیمي اودهغه حقوقي وکیل داسې باور لرل چې دمیلر دعالي دیوان پریکړه ممکن منشعب یا دوه ټوټې شوی اوسي کوم چې که داسې شوی وی نو طبعاً چې دجیمي په ګټه به تمام شي . هغه یعنې جیمي مخکې له دې چې محکمه دهغه په موردکې کوم بل حکم صادر کړي هغه دمیلر دعالي دیوان دپریکړې په رڼا کې د خپل ددوسیې دبیا له سره کتنې عریضه وړاندې کړه .

جیمي کله چې زندان ته تلل هغه وخت اتلس کلن وه اوس هغه دوه څلویښت کلن شوی دی .

هغه شپه په هغه اجماع کې خلکو خپل دخوشحالي شیبې دخپلو عزیزانو دلیدو په وخت کې یودبله سره شریکول .

« هلته دهرچا سره پوره احساس موجود وه خصوصاً کله چې یودبل سره روغبړ کول داهغه څه وه چې لاتویا جاکسن (LaToya Jackson) هغه وخت چې دخپل ورور دیمتریوس(Demetrius) سره ملاقات کوی په ډاګه کوی. ویرا واګس (Vera Wages) دخپل ورور میخایل(Michael) په لیدو سره بلکل تازه کیږي اوایستر کلارک (Esther Clark) دخپل ځوی سره کله چې ګوری له ډیر خوشحالي څخه پخپلو جامو کې نه ځایږي .

کله چې ځما وار یا نوبت راغي زه ډیرشرمیدم اوما په چیغو چیغو سره وژړل ، زه دهغه بې عدالتي له امله هک اوپک شوی اوم کله چې ما خپل شاوخوا ته دخلکو سره په ملاقات کې کتل هغو ته کوم چې ټول نوی جامې اغوستې وه اوداسې دخوشحالي فضا را میسرشوی وه چې چا دهغه فکر هم نه کول، اوهریو دخپل اقاربو اودعزیزانو په لیدو سره لرلي غمونه او خفګان له یو سره لیری غورځولي وه ، زه هیله مندیم چې نورو هم ځما په شا ن دغه نا مریي اوپټهانې بې عدالتي په ډاګه سره مشاهده کړي ترڅو چې د هغو سره یو څه مرسته وشي .

سارا سیلین(Sarah Silins) هغه ځوک چی ددی اجماع تنظیم کونکی اومرسته کونکې وه دخپل لس کلن ځوی سره رابنکته شو هغه خپل ځوی مخکی دځانه سره راوړی وه او غوښتل چی په ټول ماجرا باندی پوه شی او ضروری تجربی تر لاسه کړی . ځکه چی دا « دهغی دپاره ډیر ښه وه » هغه وویل چی ځما دپاره ددی ګنو کورنیو اود بند یا نو د متعلقینو لید نه اوکتنه خورا ډیرضروری اولازمی وه .

، سلینا پخپل خبروکی وویل داځومره دتاسف ځای دی چی داجتماعی له نقطی نظره دبند یا نو کورنی دخپلو بندی عزیزانو دلیدو څخه په نورماله بڼه محروم ووسی کوم چی دغه تعامل دنوروسره نه ترسره کیږی ، سلینا زیاته کړ هغه څه چی تا سی یی اوس وینیی هغه خما اسره دی چی هغه می خپل ځوی دی چی اوس دټولو بند یا نو د کورنیو سره لید نه اوکتنه کوی

دغه موراوپلار ، دغه ورونه ، اودغه خویندی .... دوی داچانس هیڅکله نه لرل چی دخپلو همزولو ، ښونکو ، دکار دساحی ملګرو اودکورنی دغړو سره دباندی وګوری خو دغه شیبی ډیر دیادونی اود خوښی شیبی دی چی ټولو سره راغلی کورنی دخپلو عزیزانو سره په دغه ځونه کی ملاقات کوی .

کله چی مونږ دباندی څخه خبری کوو دا په دی معنی دی چی دوی دخپلو میزونو له شا څخه را وځی او دنورو سره آزاد غږیږی تاسی اوس کولای شی چی خپل مور له نژدی څخه وګوری او هغه سره ملاقات وکړی !!! او وواییی سلام داځومره د خوشحالی ځای دی چی زه د تا سو سره ګورم ! تاسی څه مصروفیت لری اویا څه کویي؟ یواځی دځو باارزش لحظا تو د پاره داهغه دمهربانی اود خدای له طرفه دمسرت دشیبو تحفه اوسوغات دی چی په نورمال بڼی سره ترلاسه شوی دی !

دملاقاتونو اودکورنیو سره دلیدنی کتنی دوهم ورځ هم په ډیر جوش او ګرمی سره ترسره شو ، جیمی په یو ډیر ښه مُود اومزاج کی وه هغه غوښتل چی دخپل موضوع په اړه خبری وکړی ، اوهغه شیان را مینځته کړی کوم چی دبند څخه دهغه دخلاصون سبب وګرځی ، له سره بیا وخت ډیر په ګړندی سره تیریدل ، اوزه غواړم چی له دی ځایه څخه لاړشم ، ما دهغه په سترګو کی اوښکی ولویدل چی په ګریوانه یی څڅیدله ، اوداسی ویلی چی تاسی ځما په ادرس لیکونه اویادګاری عکسونه را ولیږی ، په هرصورت هغه دځپل

*میخکوب شوی څوکی څخه را پورته شواو د نورو سره خدای پامانی وکړ اوپخپل مخه لاړ .*

*لږ موده وروسته کله چی زه خپل هستوګنځی ته ورسیدم له جیمی نه می یولیک تر لاسه کړ او هغه داچی قاضی هغه ته وخت ټا کلی چی محکمی ته حاضرشی ، اوهغه په دی نه پوهیده چی دڅه دپاره هغه محکمی ته لاړ شی ، څوورځی وروسته زه وپوهیدم چی زما غوښتنه محکمی ته دادی چی قاضی په دی موافقه کړی چی ځما دوسیه له سره وګوری نو په دی وجهه زه او ځما ه وکیل دمدافع شپیته ورځ وخت لری چی یوه ښه صورت د دعوا ترهغه چی کولای شو جوړکړو.*

*دهغه لیک څخه هیلی او امیدونه وڅپریدل ، ما دلته خپل ډیر وخت صرف کړ ، هغه ولیکل : زه دخپل ددوم پړاو ژوند ته چمتویم چی له سره پیل کړم .*

------------------------------------- **په درنا وی**